# د RMV د ژباړې د تصدیق شرایط

RMV به هغه اسناد ومني چې په انګلیسي ژبه نه وي خو چې ددې اسنادو تصدیق شوې ژباړه ورسره وي. ژباړه او تصدیق دواړه باید د تصدیقونکي ادارې په سرنامه کې چاپ شي.

## د ژباړې په تصدیق کې باید لاندې موارد شامل وي:

- د ژباړونکي نوم (په لیکلې بڼه)
- نیټه
- د ژباړونکي بشپړه پته
- د ژباړونکي د تلیفون شمېره یا بریښنالیک پته
- د ژباړونکي لاسلیک
- د ژباړونکي د ورتیا تصدیق.
- یوه داسې بیانیه چې د سند بشپړتیا او دقت پکې تصدیق شوی وي.
- د سند او د ژباړې د ژبې پېژندنه

## دا اسناد د لاندې ادارو لخوا تصدیق کېدای شي:

- د ژبې د خدماتو چمتو کونکی
- د میساچوسټس په یو منل شوي کالج، پوهنتون، یا د ژبې په شخصي ښوونځي کې د دوه ګوني ژبې د ښوونکی لخوا
- د دوه ګونو ژبو د رسمي اسنادو لیکونکی
- د سند اړوند د اصلي هیواد سیمه ایزه قونسلګرۍ*
- د امریکا د ژباړونکو ټولنه (د مسلکي ژباړونکو او ترجمانانو ملي ټولنه)
- ټولنیز سازمان
- د متحده ایالاتو دولتي اداره (دولتي یا فدرالي)
- د میساچوسټس د ښاروالۍ اداره
- غیر انتفاعي سازمان

* په یاد ولرئ چې ټولې قونسلګرۍ د ژباړې خدمات نه وړاندې کوي. RMV د ژباړې د تصدیق یو ټمپلیټ یا بڼه لري چې په Mass.gov/doc/translation-certification-format/download کې شته.

په یاد ولرئ چې دا فورمه چې "Translation into English of a Foreign License" په نوم ده په معیاري توګه د موټر زده کړې د جواز یا د معیاري موټر چلولو د سند د غوښتنلیک په توګه نه منل کېږي. د جواز یا لایسنس د غوښتنلیک د یوې برخې په توګه د اسنادونو د ژباړې د تصدیق لپاره، د "Translation Certification Format" فورمه وکاروئ.

.